# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

*www.afgazad.com*　　*afgazad@gmail.com*

| *Political* | *سیاسی* |
|---|---|



پیشگام

۱۳ می ۲۰۲۴

## د طبیعت قهر او د بېوزلو قرباني کېدل

د طبیعت قهر نه نېستمن پېژني او نه شتمن. طبیعي پېښې لکه زلزلې، اورشیندې، سېلاونه، ورښتونه او داسې نور د انسانانو په وړاندې یو شان چلند کوي. خو د دې پېښو په وړاندې د مقاومت کچه د انسانانو په مینځ کې توپیر لري او دا توپیر د انسانانو طبقاتي ځای ځیګی ټاکي، د هغوی شتمنی، ثروت او نیستي یې ټاکي.

انسانان کولای شي یوه ورځ ټولو ټولنیزو تضادونو ته د پای ټکی کېږدي، خو یوازینی تضاد، چې انسان ورسره باید تل مبارزه وکړي له طبیعت سره د انسان تضاد دی. دا تضاد که له یوې خوا خونړی دی، له بلې خوا د بشریت او د ټولنې د ژوندانه د پرمختګ لپاره ضروري دی. که چېرې په طبیعت کې تضاد موجود نه وي او انسان له دې تضاد سره مقابله ونکړي، د بشریت ژوند او حیات به پای ومومي، ځکه تضاد د حرکت اصلي لامل دی.

انسانان هڅه کوي، چې د بشریت د هوساینې، برابری او پرتمین ژوندانه په پار ټول ټولنیز تضادونه له مینځه ویسې او تر څنګ یې پر طبیعي حوادثو هم برلاسي شي. خو له دې ټولو هلوځلو سره سره، له طبیعت سره د انسان تضاد یو پاتې کېدونکی تضاد دی.

له طبیعت سره د انسان د تضاد یوه بڼه همدا طبیعي پېښی دي. طبیعي پېښې ړندې دي او د انسانانو له طبقاتي مقام پرته پر هر چا یو شانتې ګوزار کوي، خو په دې ګوزار کې هغه انسانان ډېر زیانمن کېږي، چې د نیستی له وجې د دې پېښو په وړاندې اړین مقاومت نشي کولای.

همدا اوس د افغانستان په بېلابېلو او په ځانګړي توګه په بغلان ولایت کې د سېلاونو خونړی پېښې تر سره شوې، چې تر دې دمه یې څه باندې ۳۰۰ بېوزله هېوادوال وژلي او نژدې زر نور یې ټپي کړي دي. د دې پېښې ډېری قربانیان هغه کسان دي، چې د بېوزلی ژوند تېروي او په خټینو کورونو او جونګړو کې ژوند کوي. که چېرې دې نیستمنو خلکو د لوړ مقاومت پاخه کورونه لرلی، نو تر ډېره حده پورې به د زیانم کېدلو کچه راټیټه شوې وی.

زموږ په هېواد کې، چې اکثریته زیارکښان او بېوزلي په خټینو او په بې کیفیته ودانیو کې ژوند کوي او یا هم د فقر او بې وزلی له امله په خوړونو او د سېلاونو په لارو کې کورونه جوړوي، د زلزلې، ځمکي خوېدنې، نېزونو او په نورو طبیعي پېښو سره تر ټولو زیات اغیزمن او قرباني کېږي. همدا اوس په بغلان او نورو ولایتونو کې د هغو بېوزلو او نیستمنو خلکو کورنه سیلاونو وړي او ماشومان، مېرمني او د کورنی نور غړي یې وژلي دي، چې په خټینو جونګړو او په داسې ځایونو کې اوسېدل چې د خوړونو او د سیلاونو لارې دي.

دا لومړنی طبيعي غميزه نه ده چې پر افغانانو راځي. څه مودې مخکې د هرات د زلزلې شاهدان وو. له دې مخکې هم په کراتو سيلاونو او زلزلو او ځمکې خويېدنو بېوزله افغانان ويرجن کړي دي. دا ټولې طبيعي پېښې په داسې حال کې رامينځته کېږي او بې وزله افغانان ځپي، چې يوه کوچنی شتمنه طبقه، څه په «جمهوريت» کې او څه هم اوس د ځمکو په تالان او غصبولو او د مېنې او ښارګوټو په جوړولو بوخته وه او ده.که چېرې زموږ په هېواد کې يو ولسپال دولت واکمن وی، چې د اکثرو زيارکښو طبقو د ګټو استازی وی نو په دومره کلونو کې به بېوزلو افغانانو ته داسې هستوګنې کورونه جوړ شوی وی، چې د طبيعي پېښو په وړاندې مقاوم او د غميزو مخنيوی به يې کړی وی.خو له هغه ځايه چې پر افغانانو داسې کسان واکمن دي، چې بې وزلو انسانانو ته د چوپړ او خدمت هېڅ ډول کړنلاره لرلی نشي، نو له بده مرغه په راتلونکې کې به هم دا ډول طبيعي پېښې لا نور بېوزله افغانان وځپي او لوی غميزې به شا ته پرېږدي.

زموږ د هېواد ستمګرو دولتونو هېڅکله له ولسي پرګنو سره خواخوږي نه ده لرلې، ځکه چې دا دولتونه د ستمګرو طبقو استازي دي او هڅه کوي چې د همدې طبقو ګټې خوندي کړي. نو ښکاره خبره ده، چې هېڅ واکمن ستمګر دولت د بېوزلو دهقانانو او انسانانو ختين کورونه په داسې کورونو بدلولی نشي، چې هغوی په کې د طبيعي پېښو په وړاندې خوندي او محفوظ پاتې شي.

د وروستۍ خبرې په توګه د دې ټکي يادول لازمي دي، په داسې حال کې چې موږ د خپلو بېوزلو خوېندو، ورونو او تنکي ماشومانو په مرګ او د نيستمنو خلکو د کورونو په ړنګېدلو ويرمن او غمجن يوو، په ګاونډ کې مو د «تابناک» په نامه د ايران د آخوندي رژيم، په تېره بيا سپاه پاسداران او خامنه ای ته نژدې خبري آژانس په ډېره بې رحمانه ډول ليکلي دي:

«حقابه ای که به ايران نيامد، سيل شد و ۳۰۰ افغان را برد.» دا ملنډه وهونکی طعنه، د ملايي رژيم ماهيت په ښه توګه بربنډوي، چې د انساني خواخوږي په نامه څه نه پېژني.